# پیرول لرونکي افغانان (**SQ/SI** ټاکنه)، پیرول لرونکی افغان (غیر **SQ/SI** پیرول)، او **SIV** لرونکی افغان
**2023** سپټمبر

که چیرې تاسو د یو افغان پیرول لرونکي په توګه چې SQ/SI ولري ټاکل شوي یئ یا درته د بشري یا مهمې دولتي ګټې د پیرول ترمخه د افغان پیرول لرونکي دریځ درکړل شوی وي (چې غیر SQ/SI پیرول هم بلل کېږي) یا د کډوالی ځانګړې ویزه (SIV) لرونکی افغان یئ، دا د حقیقتونو پاڼه به په ایلینوا کې د روغتیایي پوښښ دپاره ستاسو د وړتیا په لړ کې ستاسو سره مرسته وکړي. د وس لاندې پاملرنې قانون Marketplace (ACA) او Medicaid دواړه داسې خدمتونه پوښي لکه د ډاکټر لیدنې، د روغتون پاملرنه او درمل. د Marketplace یا Medicaid د وړتیا دپاره، تاسو باید د ایلینوا اوسېدونکي یئ. که چیرې تاسو په فعاله غیرکډوالی ویزه یئ نو کېدی شي تاسو وړتیا ونلرئ.

HealthCare.govپه ایلینوا کې Marketplace دی چیرته چې تاسو له جېبه بهر لګښتونو (لکه ګډه تادیه، د کمښت وړ) سره د ټیټو میاشتینیو تادیو یا سپماو سره پوښښ ترلاسه کولی شئ. Medicaid او Medicaid ته ورته پروګرامونه د ټیټ عاید خلکو دپاره ایالتي روغتیایي پوښښ دی چې په عمر، د کډوالی په دریځ، د کورنۍ پر غړتوالي، او عاید تکیه لري:

- **ACA د لویانو Medicaid:** 16-64 کلونه عمر لرونکي چې عاید یې تر 138% FPL وي.
- **د بوډاګانو، رندو، او معیوبو دپاره د مرستې Medicaid (AABD):** 65 کلن یا مشر یا معیوب چې عاید یې تر 100% FPL وي.
- میندې او ماشومان: امیندوارې او د زېږون وروستو تر 12 میاشتو چې عاید یې تر 213% FPL وي.
- **د مشرانو کډوالو دپاره روغتیایي ګټې (HBIS)** Medicaid ته ورته پروګرام 65 کلن یا مشر چې عاید یې تر 100% FPL وي.
- **د لویانو کډوالو دپاره روغتیایي ګټې (HBIA)** Medicaid ته ورته پروګرام باید 42-64 کلن وي چې عاید یې تر 138% FPL وي.
- **VTTC Medical** Medicaid ته ورته پروګرام: 19 کلن او مشران چې عاید یې 100% FPL وي.
- **د ټولو ماشومانو Medicaid پروګرام:** تر د 19 کلنۍ، چې کورني عاید یې تر 318% FPL وي.
- **د کورنۍ د پلاننګ پروګرام (FPP/FPPE):** د زېږون هراړخیزه روغتیایي خدمتونه د هر عمر یا جنس وګړو دپاره چې عاید یې 213% FPL؛ FPPF ترلاسه دی پرته د کډوالی د دریځ.

## د عامه لګښت په اړه څه خبره ده؟

کله چې ځینې وګړي (په زیات احتمال د کورني کډوالی له لارې غوښتنه کوونکي) د LPR (چې په ټولیز ډول شین کارت بلل کېږي) د دریځ غوښتنه کوي، د کډوالی چارواکو د ګڼ شمېر فاکتورونو ارزونه کوي ترڅو دا مالومه کړي چې آیا غوښتنه کوونکی *په احتمالي توګه د خپل رزق دپاره د حکومت لومړی لاسپوڅی جوړېږي* -- او که داسې وي، نو کېدی شي غوښتنه کوونکي ته د عامه لګښت پر اساس د شین کارت ورکولو څخه انکار وشي. ***په روغتیایي پوښښ (لکه د Medicaid او Marketplace پوښښ) کې نوم لیکنه د عامه لګښت په ازمېښت کې نه شمېرل کېږي؛ د عامه لګښت په ازمېښت کې شمېرل کېدونکې یوازینۍ روغتیایي ګټه په داسې اداره کې د اوږمهاله پاملرنې کارول دي چې د Medicaid له خوا ورته تادیه کېږي.*** د "خوندي" ګټو د اوږد نوملړ دپاره دا اړیکه وګورئ. شین کارت لرونکي چې کله خپل شین کارت نوی کوي یا د *تابعیت غوښتنه کوي* د عامه لګښت د ازمېښت لاندې نه راځي. د کډوالی د هغه دریځونو د اوږد نوملړ دپاره چې د عامه لګښت د ازمېښت څخه بهر دي دا اړیکه وګورئ.

## غوښتنه په څنګه کوئ:

- **Medicaid** په ایلینوا کې د Medicaid او نورو ګټو غوښتنه کولو دپاره ABE – د ګټو د وړتیا دپاره غوښتنلیک وکاروئ: https://abe.illinois.gov/abe/access/. Medicaid له هغه نېټې چې تاسو غوښتنه وکړئ تر درې میاشتو شاتنۍ نېټې ته بیول کېدی شي، که چیرې تاسو وړتیا لرئ او په دغه درې میاشتو کې طبي لګښتونه لرئ.
- **د Marketplace پوښښ:** HealthCare.gov وکاروئ ترڅو د خلاصې نوم لیکنې په موده (نومبر 1 – جنوري 15) کې د Marketplace پوښښ غوښتنه وکړئ یا که چیرې تاسو د کال په نورو برخو کې د نوم لیکنې د ځانګړې مودې وړتیا لرئ. کوم نیویګیټر یا اسیسټر کولی شي په Marketplace یا Medicaid کې ستاسو وړیا نوم لیکنه وکړي.



Shriver Center on Poverty Law

# پیرول لرونکي افغانان (SQ/SI تاکنه)، پیرول لرونکی افغان (غیر SQ/SI پیرول)، او SIV لرونکی افغان
# د Medicaid او Marketplace پوښښ دپاره وړتیا

که چیرې تاسو د یو افغان پیرول لرونکي په توګه چې SQ/SI ولري ټاکل شوي یئ یا درته د بشري یا مهمې دولتي ګټې د پیرول ترمخه د افغان پیرول لرونکي درېځ درکړل شوی وي (چې غیر SQ/SI پیرول هم بلل کېږي) یا د کډوالی ځانګړې ویزه (SIV) لرونکی افغان یئ، دا د حقیقتونو پاڼه به په ایلینوا کې د روغتیایي پوښښ دپاره ستاسو د وړتیا په اړ کې ستاسو سره مرسته وکړي. تاسو د پنځه کلیز انتظار پرته د فیډرالي Medicaid پروګرامونو وړتیا لرئ او د ACA Marketplace روغتیایي پوښښ وړتیا لرئ.

## پیرول لرونکي افغانان (SQ/SI تاکنه)، پیرول لرونکی افغان (غیر SQ/SI پیرول)، او SIV لرونکی افغان

| Marketplace | میندې او ماشومان | VTTC طبي | HBIS | HBIA | ټول ماشومان | AABC | ACA لوی | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| هو | هو | نا | نا | تا | هو | هو | هو | وړ؟ |

### د اضافي ګټو او پروګرامونو وړتیا

که چیرې تاسو د یو افغان پیرول لرونکي په توګه چې SQ/SI ولري ټاکل شوي یئ یا درته د بشري یا مهمې دولتي ګټې د پیرول ترمخه د افغان پیرول لرونکي درېځ درکړل شوی وي (چې غیر SQ/SI پیرول هم بلل کېږي) یا د کډوالی ځانګړې ویزه (SIV) لرونکی افغان یئ، نو تاسو د کډوالو د بیاابادونې د دفتر (ORR) ترمخه د ګټو وړتیا لرئ. ORR SQ/SI پیرول لرونکو افغانانو دپاره نغده مرسته، طبي مرسته، د دندې چمتووالی، د کار زمینه، د انګلیسي ژبې روزنه، او نور خدمتونه وړاندې کوي. د نورو مالوماتو دپاره ادا د ORR د حقیقتونو پاڼه وګورئ. تاسو د SNAP او TANF، WICاو د حقیقتونو په دې پاڼه کې ورکړل شویو ګټو او پروګرامو وړتیا هم لرئ.

### نورو مالوماتو ته اړتیا لرئ؟

- د کډوالو ځانګړې ویزه (SIV) لرونکو افغانانو او پیرول لرونکو افغانانو دپاره د روغتیایي پوښښ په اړه د Medicare او Medicaid خدمتونو د فیډرالي مرکزونو خپره شوې د حقیقتونو پاڼه: دلته.
- د پیرول لرونکو افغانانو دپاره د پېرودونکي د سندونو او ګټو په اړه لارښود، چې د CLINIC او د کډوالی د کډوالو خدمتونو له خوا په ګډه خپور شوی دی، مالومات او د هغه سندونو سامپلې وړاندې کوي، کومې چې کېدی شي د DHS له خوا پیرول لرونکو افغانانو ته ورکړل شي.
- د عامه لګښت پوښتنې؟ pifillinois@povertylaw.org ته بریښنالیک ولیږئ یا د Protecting Immigrant Families Illinois ویبپاڼه وګورئ یا د Keepyourbenefits.us ویبپاڼه وګورئ ترڅو ادا مالوم کړئ چې آیا تاسو به د عامه لګښت د ازمېښت لاندې یئ.
- په ایالتي کچه د کډوالو خدمت کوونکي د ټولنیز خدمت اداري او د DHS د هرکلي مرکزونه او د ICIRR له خوا اداره کېدونکي د کورنۍ او ټولنې د سرچینو مرکزونه (FCRCs)

**د حقیقتونو د دې پاڼې په اړه پوښتنې لرئ یا د کومې اندېښنې خبرتیا ورکول غواړئ؟: *pifillinois@povertylaw.org***



Shriver Center on Poverty Law